# بسم الله الرحمن الرحیم

## د ویښ زلمیانو حزب (مرامنامه)*

اول: د ویښ زلمیانو د حزب پروګرام:

۱- د معارف تعمیم او د اذهانو تنویر؛

۲- ملي وحدت تقویه کول؛

الف: د پښتو د یووالي دپاره کوښښ کول؛

ب: دپښتونستان د جوړولو دپاره زیار ایستل؛

ج: د لویې پښتونخوا (لوی افغانستان) ټول اوسېدونکي یوشان ګڼل او د قومي او قبیلوي امتیازاتو او اختلافاتو پرېښودل او ورک کول؛

د: د ټولو اقلیتونو د مشروعو او قانوني حقوقو رعایت کول؛

ه: په متقابل صورت په پښتو او فارسي سره غږېدل؛

۳- له ظلم، خیانت، غدر، تملق، رشوت او دروغو نه ځان ساتل او د هغو سره مجادله کول؛

۴- د خرافاتو او بدو رسومو اصلاح کول؛

۵- اجتماعي همدردي او خوشبیني پیدا کول؛

۶- قومي او ملي مفاد پر شخصي مفادو مقدم ګڼل؛

۷- له هیواده ناپوهي، ناروغي او لوږه لري کول؛

۸- د دین او ملت خپل او ملي حکومت سره مینه لرل؛

۹- وطني شیان حتی المقدور استعمالول او له بدخرڅۍ اوعیاشي نه ځان ساتل.

* نوت ذیل توسط مرحوم محمدرسول پشتون در قسمت فوقانی نسخه قلمی مرامنامه تحریر شده:

نوت: این مرامنامه از طرف کندهار رد شده و قبول نگردیده است.

دوهم: شرايط:

۱- هرڅوک چه په دې حزب کښې داخليږي هغه به د حزب مرام په مخ بېولو سره د صداقت او وفادارۍ تعهد او حلف کول؛

۲- د حزب ټول غړي به په هرکال کښې د حزب خزانې ته يوه اندازه پيسې تحويلوي (چه اقل حد به يې پنځوس افغانۍ وي)؛

۳- د حزب هر غړی به کوښښ کوي چه د حزب دپاره ملګري زيات کړي؛

۴- د حزب مرام او اصولو تبليغ د حزب په هر غړي لازم او واجب دي؛

۵- د خپلي ډلي د ملګرو سره به د ضرورت په وخت کښې هرقسم مرسته کول؛

۶- هرڅوک چه نوی په حزب کښې داخليږي، عمر يې بايد د اتلسو کالو څخه کم نه وي.

دريم: تشکيلات:

۱- دا حزب به يوه مرکزي کميټه ولري چې په کابل کښې به وي او نورې ايالتي کميټې به هم لري چه په ولاياتو او اطرافو کښې به تمرکز ولري؛

۲- هره کميټه به يو رئيس، يو منشي، يو معاون او يو خزانه دار لري؛

۳- هره کميټه به په لازمه وختو کښې جلسې کوي او د ټول حزب عمومي جلسه به په کابل کښې هرکال يو ځل کېږي او په ټولو سترو مسايلو باندي به بحث کوي اوفيصلې به يې فوراً د ټولو کميټو له خوا تر اجرا لاندي نيول کېږي.

نوټ: ايالتي کميټې به ددې پروګرام مطابق چلېږي.

دا حزب چه په (۱۳۲۵) کال کښې په ابتدائي صورت جوړ شوی و د (۱۳۲۸) کال د (اسد) په (۲۷) تاريخ په نوي صورت بدل شو، نوی پروګرام ورته وټاکل شو او له دغه تاريخ څخه په نوي شکل تاسيس شو.

نېټه د ( اسد ۲۷ کال ۱۳۲۸) .